ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۵/۱۵

# امریکایانو افغانانو ته څه ورکړل

د افغانستان خلکو د تاریخ په اوږدو کي د پیړیو پیړیو راهسي د خپلی خاوری څخه په زغره دفاع کړیده او د یرغلګرو په مقابل کي یی خپله مړانه، عزت، ننګ او غیرت، په وار وار سره ننګولی دي. افغانانو د نړی د ټولو سترو او زبردستو واکدارانو او زور واکو سره په خالی لاس د خپلی خاوری او د خپل ننګ او ناموس د ژغورني په خاطر ځو ځله تن په تن جګړی کړي دي او په دی لاره کی یی ډیری قرباني ورکړي دي. ولی ددي ټولو ښیګڼو سره سره بیا هم افغانان د پردو د شومو کرغیړونو دسیسو او توطیئو ښکار شوی دي. یرغلګرو او شکیلاکو دولتو یواځی هغه وخت د افغانانو په منځ کي درځ پیدا کړي دي او خپل پلانونه عملي کړی دي، کوم چه دوي په مختلفو ډولونو سره په چل او فریب باندي ځیني کمزوری افغانان د خپل هدف د ترسره کولو لپاره د ځان مله کړي دي او هغوی یي بیا په زر او زور باندی رانیولي دي. دغو یرغلګرو بیا همدغه کوچنی ډله د ټولو افغانانو پرسر باندي آمران او باداران کړي دي، چه بڼه او ځیره یی و هرچاته له ورایه مالومداره او بیلګی یی د ځلورو لسیزو حکومتونو د واکداری په درشل کي بیله شکه د یادولو وړ دي.
ولی ددی ټولو دسیسو او توطیئو سربیره بیا هم پتمنو او پاک نفسو افغانانو په دی لاره کي ډیر سخت مقاومت ښکاره کړي دي، او د خپلي خاوری د ساتلو په سر ښندنه کی یی ډډه نه ده کړي او پخپل هوډ او عزم تر پایه دریدلي دي.

د افغانستان پر خاوره باندی د انګریزانو بربنده لاس وهنه، ور پسي د روسانو یرغل او اوس د مګړي د امریکایانو لاس وهنه افغانان تر پوزه راوستي دي. امریکایانو د انګریزانو او روسانو نه د عبرت درس وانه خیست. او په ډیره سپین سترګي سره یی د افغانستان خاوری ته د دیموکراسی، آزادي، بشری حقوقو، او د ښځو د حقوقو تر نامه لاندي تش په نامه نوي اصطلاح ګاني دود کړي. ولی دوي په دي هکله د افغانستان دولت او حکومت تر خپل شکیلاک او محاصری لاندي راووست او تر نن پوري یی په خپل چوکاټ کي ساتلی دي او دا جرړی لا دوام لري.

د افغانستان خلک کوم چه د دیرش کلني جګړی نه ستومانه او ستړي شوی وو، د امریکایانو او غربیانو وراتګ ته یی د زړه له کومي په خاصه اخلاص مندی سره هرکلی ووایی، په دي شرط چه امریکایان د ژوندانه په ټولو چارو کي افغانانو ته د مرستي لاس وغزوي. ولی دا هرکلی دیر ژر په کرکی او نفرت بدل شو.
جبر، ظلم، وحشت، اخلاقی فساد او د بشر انسانی حقوق تر پښو لاندی کول نه یواځی ورک نه شول بلکه پخپله د دوی لخواه یی ملاتړ ونشو او د عمل جامی یی وانه غوستلي. اختطاف، انسان وژنه، اخلاقی او اداری فساد په لویه کچه د درغلي لمنه نوره هم پراخه کړله. چه په دی هکله د افغانستان اوسني دولت د خپل جوړښت د پنځه زره کلن تاریخ په اوږدو کي د فساد او درغلي ریکارد خپل کړی دی. امریکایانو د افغانستان دولت او خلک په ډلو ډلو سره وویشل او دهری ډلی سره یی خپلی ځانګړي اړیکي ټینګي کړي. دوي د افغانی ټولني هغه ټول کمزوري او کم نفسه افغانان په ډیری ځیرکی سره رانیول او د دولت او حکومت په چوکاټ کی یی ځای پرځای کړل.

د افغانستان د جهاد د وخت د قوماندانانو نه نیولی بیا د غربي هیوادو تش په نامه روشنفکرانو او بی کفایته اشخاصو سره یی چه د خلک د دیمکراتیک کوند غړي، اسلامی شعوری بنسټیزه مذهبي ملا یان او ځایی خانان هم پکی شامل وو. د خپلو شخصی ګټو له کبله د دوي سره همغاړي شول. او د یوه نوی په اصطلاح دیموکراتیک قانونی نظام اساس او بنسټ یی کښیښود.
دا نظام د لسو کلنو په موده کي د نړي تر ټولو فاسد، بی کفایته او درغلګر نظام باندی بدل شو. چه پخپله امریکایانو هم د اوسني دولت پر اخلاقی، اداری فساد او رشوت خوری باندی په وارو وارو تور لګولي دي. او په میلیاردونو ډالر د نړیَ د مختلفو شتمنو هیوادو له لاری د افغانستان د بیا رغوني او جوړونی په منظور زمونږ هیواد ته را وړل شوی دي، ولی ډیر ژر د داړه مارانو او فاسدو رشوت خورانو لاسته ورسیدل، چه ډیره کمه برخه یی د هیواد په پرمختیایی او انکشافی بودجي او پلانونو باندی مصرف شوی دي.

امریکایانو نه یواځی د فساد او رشوت لاری بندی نکړي، بلکه په خپله یی په دغه فساد کیَ پوره ونډه واخیسته.
امریکایانو په بر بنډه او ښکاره ډول سره د افغا نستان د حکومت او دولت په ټولو چاروکي ښکاره لاس وهنه وکړه.
دغلا، ترور، اختطاف، انسانی جنایت، رشوت، او دبیګناهو افغانانو په وژلو کی یی هیڅ کمی را نه غله ولی د افغانستان مسلمان دولت حکومتي ماشین یی د اخلاقی فساد په یوه کپیتالیستي دولت واړوي. پانګوال، لوړ رتبه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چارواکي با نفوذه جهادی قوماندانان او توپک سالاران، ځایی خانان تر بل هر وخت لا نور د پیسو خاوندان شول، ولی غریبه او متوسطه طبقه نور هم له پینو ولوید له او د لوږي او مرگ په منځ کی قرار لري. د بیکاری او وزگاری سطحه ورځ په ورځ مخ په کښته کیدو ده، د تحصیل اسناد په غیر قانونی توگه په پیسو رانیول کیږي او د دولت چوکي هم په ډیري بی غوری سره غیرمسلکی خلکو ته د پیسو او واسطو په ذریعه په بی کفایته نا اهلو اشخاصو باندي خرڅیږي، چه ښکاره بیلگی یی په مرکز او ولایاتو کی د ښه او خرابي اداری ډیر ښه ثبوتونه د یادونی وړ دي. او د کار اهل کار د سپارلو وجه ډیره کمزوری ښکاري.

امریکایان د خپلی پر مختللي ساینس، تخنیک او تکنالوژي په لرلو سره سره چه په لاس کی یی لري زیاتره وخت پر بیگناه افغانانو باندي ړانده درانه بمونه غورځوي. وړوکی ماشومان، ښځي زاړه او ځوانان د دوي د راکتونو قربانی کیږي او پر خپله خاوره بیله دی نه چه هیځ گناه او اشتباه یی نه ده کړی د مرگ کندی ته استول کیږي. چه دا کار تقریبآ هره میاشت څو ځله تکراریږي. ولی د پای ټکي یی تر اوسه پوري نه دي موندل شوي او دا جرړی لا تر اوسه پوری دوام لري.

د نړي د بشری حقوقو سازمانونه خو بیا د ټولی نړي په اړوند په افغانستان کی ډیر شتون لري. ولی دوي هم ځان ددی ټولو ناخوالو عینی تصویر او انځور یواځی په یوه کوچني راپور سره خلاصوی او د پلټنی او حقوقي دعوي نه ځان ناگمانه اچوي.
افغانان هیڅ وخت ترهگر او تروریستان نه ول او نه هم افغانانو د چا پرغولی او کور باندي تعرض کړی دي. ولی نن په افغانستان کی د پردو په هڅوني او لاس وهني د افغانانو پر کور او غولی باندي تعرض کیږي او حقوق یی تر پښو لاندی کیږي. نن په نړي کي افغانان تر بل هر چا ډیر د ویر او ناورین په غم اخته دي. ولی بل طرفته افغانان د ترهگرو، تروریستانو په نومونو سره هم یادیږي او د زهروی توکو د قاچاقبر تور هم وربادی لگیږي. چه دا بدنوم تر اوسه زمونږ په تیرکلن تاریخ کی ساری نلري.
په افغانستان کي د غربی هیوادو د مرستي په ډله کي یواځی جاپان او جرمني د افغانانو د بیا رغوني لپاره په کلکه متي را نغښتی دي. چه ښکاره بیلگی یی په کابل او ولایاتو کي د یادولو وړ دي. ولی نورو میلمنو هیوادو هم څه نا څه د مرستي لړي د افغانستان د خلکو د خدمت جوگه شوی دي او ځان یی د مرستو لپاره چمتو کړی دي.
مونږ په داسی حال کي چه د هر هیواد د مرستو او کمک دي خیریه گام ته په درنه سترگه گورو، ولی په عین وخت کی د خپلو پتمنو هیوادوالو نه هم هیله کوو چه دغه مرستي د بیارغوني پر پروژو او مستحقو ربړیدلو او کړیدلو افغانانو باندی په پوره صداقت، ایمان داري او اخلاصمندی سره وویشل شي. ترڅو وکولای شو ډیر ژر د خپل گران هیواد راتلونکي برخلیک او د خلکو د لړو ضروریاتو او احتیاجاتو پیمانه ور پوره کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ